PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

د افغانستان په امنيتي ځواکونو کې فساد د سولې په لاره کې خنډ دی

کابل، 26 اپریل 2017

د افغانستان په امنيتي ځواکونو کې د فساد سره د مبارزې په لاره کې د هڅو سره سره اوس هم اوږده لاره پرمخ ده. تقريباً هره اونۍ په اردو او پوليسو کې د فساد او ناوړه ګټې اخيستنې راپورونه خپريږي او هغه هم په لوړه کچه.

نوموړي وضعيت د افغانستان د خلکو لپاره ناوړه پايلې لري. فساد د امنيتي ځواکونو پياوړتيا کموي او طالبانو ته اجازه ورکوي ترڅو د جګړې په ډګر کې خپله توانايی لوړ کړي. هره اونۍ فساد د افغانانو د وژل کيدلو لامل ګرځي ځکه وسلې، مهمات او نور تجهيزات طالبانو باندې پلورل کيږي. او له ټولو څخه ناوړه دا چې فساد د سولې پر وړاندې چې افغان خلک يې په تمه دي خنډ ګرځي.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړی استازی فرانز مايکل ميلبن وايی: " په افغانستان کې سوله ممکنه ده. خو سولې ته د رسيدلو لپاره څو مهم کارونه بايد ترسره شي. تر ټولو نه مهم دا چې افغان امنيتی ځواکونه بايد دغه پياوړتيا ترلاسه کړي چې د جګړې په ډګر کې د طالبانو د پرمختګ مخنيوی وکړي. د امنيتی ځواکونو پر مسلکي کولو باندې بايد دوامداره تمرکز وشي، په ځانګړي توګه د بهتره رهبرۍ رامنځ ته کول. همدارنګه اړتيا لرو چې په امنيتی ځواکونو– په اردو او پوليس – کې فساد سره جدي مبارزه وشي. فساد د امنيتی ځواکونو اغيزمنتوب په جدي توګه اغيزمنوي. "

نن اروپايي ټولنه خپل د فساد پر ضد کمپاين څلورمه او آخريي برخه چې په امنيتی سکتور کې د فساد باندې تمرکز لري په لاره اچوي.

سفير ميلبن وايی: " په داسې حال کې چې مونږ د امنيت په برخه کې د لويو ستونزو رابرسيره کوو مونږ همدارنګه غواړو چې له هغه ښه کارونو څخه چې ترسره کيږي هم يادونه وکړو. مونږ منو چې د افغانستان دولت، ناټو او د غوڅ ملاتړ ماموريت او نور نړيوال همکارانو مرسته کړې تر څو افغانستان پرمختګ ولري. خو نورو کارونو ته اړتيا شته چې همدا اوس بايد ترسره شي. "

د لا ډيرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
برېښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کيل اندرسن
د رسنيو او عامه اړيکې سلاکار
په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي
شماره تماس: 449 701 794 (0) 93+
ايميل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu